# د بدلمنۍ تاريخ (په نړۍ کې د بدلمنۍ لنډکی تاريخ)

ليکوال: جورج ريلي سکاټ

ژباړن: ميراحمد ياد

چاپ کال: ۲۰۱۸

چاپ: دانش خپرندويه ټولنه

د بدلمنۍ تاريخ د جورج ريلي سکاټ اثر دی چې ميراحمد ياد پښتو ته ژباړلی او دانش خپروندويه ټولنې په کال دوه زره او اتلس کې چاپ کړی. دا کوچنی کتاب چې ۱۲۴ مخه، دري لويې برخې او پنځلس ۱۵ بيلا بيل څپرکې لري. د نړۍ په بيلا بيلو هيوادونو کې د بدلمنۍ نن او پرون ته کتنه کوي. د بدلمنۍ نوم خورا سخت دی او دا هغه لاره ده چې ښځې او نر دواړه پرې د تباهۍ خوا ته روان دي خو نړۍ او په خاصه توګه نارينه ناترسه دي چې د دې پديدې د بدبختۍ ګوته يوازې ښځو ته نيسي. دا کتاب درباندې د بدلمنۍ ارتقايي پړاونه لولي او در ښايي چې دا بدبختي څنګه پيل کيږي؟ له کومو پړاونو تيريږي او اخير په کومه نطقه پای مومي؟

د بدلمنۍ د پيل په اړه دقيق معلومات نشته خو په دې کتاب کې د بدلمنۍ کيسې په غيراسلامي هيوادونو په ځانګړې توګه په اروپايي هيوادونو راخرڅي، دا کارونه به په اسلامي هيوادونو کې هم کيږي خو په داسې خلاص مټ يې هيڅوک نشي کولی. دا کتاب د بدلمنۍ ترڅنګه په تاريخ کې له ښځې سره شوې نادودې هم ښايي او انسان دې فکر ته اړ باسي چې بدلمني که د دوو انسانانو(يوې ښځې او يوه سړي) کار وي، بيا دا ټول تور ولې يوازې په ښځې پورې کيږي او سړی ولې له دې مسووليته خلاص ګرځي؟

په دې کتاب کې که څه هم زمونږ د وطن او نړدې ګاونډیانو په اړه چې دلته پرې نیوکه هم کیدی شي څه نشته او مونږ ته یې شاید لوسته دستي ګټه ونه لري چې له خپله حاله مو خبر کړي خو دا ګټه را رسوي چې په نړۍ کې ان په دې موضوعاتو هم څیړنه کیږي، کتابونه پرې لیکل کیږي او یو اوږد تاریخ لري. د دې کتاب د لوستو ګټه دا ده چې د تاریخ لیکوالو له بهرني سْبک او لیوالتیاوو سره مو بلدوي. نو راځئ په دې ویډیو کلیپ کې پرې خبرې کوو.

لومړۍ برخه؛

د کتاب لومړۍ برخه په عموم کې د بدلمنۍ پر لاملونو راڅرخي او دا په ډګه کوي چې هغه کوم لاملونه دي چې ښځینه جنس مجبوریږي او بدلمنۍ غوندې خراب او بدنام ژوند ته مخه کوي. همدا شان د لولۍ(ځان پلورنکې) او ټولنې پر اړه او د دې پدیدې پر پخوانۍ او اوسنۍ اوضاع باندې بحث کوي. ښاغلی سکاټ زیاتوي چې دوئ په ټولنه کې ډیر بد نوم لري، خلک ورڅخه کرکه کوي، جالبه دا ده چې هغه خلک هم ورڅخه کرکه کوي چې د دوئ سره یوځای شوي وي او خوند یې ترې اخیستی وي. بدلمنو ښځو ته د لولۍ نوم ورکول شوی، په دغه کار روږدې میرمنې خپله هم د لولۍ په نوم خفه کیږي، پخوانیو وختونو کې بیلا بیلو هیوادونو کې د دوئ شتون او حیثیت ته پام کیده او په ځینو کې ورته په سپکه کتل کیده خو په ډیری هیوادونو کې دوئ ته ځانګړی پام کیده ان اروپایي شاهانو او اشرافو به هم د بدلمنو ډیر درناوی کاوه.

لومړۍ برخه؛ لومړی څپرکی؛ په لومړي څپرکي کې لیکوال په لولۍ او ټولنه بحث کوي او لیکي چې لولۍ زیاتره اخلاقي لویدلې ښځې ګڼل کیږي او ټولنه یې پر وړاندې داسې غبرګون ښیي لکه د کوم شرم پر وړاندې غبرګون چې ښیي. همدا شان په بیلا بیلو ټولنو کې د بدلمنۍ په وړاندې د خلکو برخورد ته کتنه کوي.

لومړۍ برخه؛ دویم څپرکی؛ په دوهم څپرکي لیکوال د بدلمنۍ په اساسي لاملونو بحث کوي او لیکي چې د ښځو د بدلمنۍ لامل ښځې نه بلکې سړي دي او همدا د بدلمنۍ اصلي لامل دی، که څه هم دا خبره څوک ښکاره نشي کولی خو په عملي توګه منل شوې خبره ده. پوهان که څه هم اقتصادي اړتیاوې د بدلمنۍ لومړی لامل بولي خو تر ټولو مهم یې د نارینوو جنسي تنده او پلټنه بولي چې سړی یې لري او ښځې سره یې جنسي عمل ته اړباسي. په دې برخه کې لیکوال د تیر په شان د بیلا بیلو ټولنو په نظر کې نیولو سره هلته د بدلمنۍ لاملونه هم بیلا بیل ګڼي، په ځینو هیوادونو کې د بدلمنۍ یو لامل دا ګڼل کیږي چې پاکې او درندې میرمنې خوندي پاتې شي. په همدې خاطر یې د وینځو سوداګرۍ او مسلکي بدلمنۍ ته اجازه ورکړې وه.

لومړۍ برخه؛ دریم څپرکی؛ په دریم څپرکي کې لیکوال دا چې ښځې ولې لولۍ(ځان پلورنکې) کیږي موضوع باندې تم کیږي او هڅه کوي چې خپلې پوښتنې ته ځواب ومومي.د دې برخې په اوږدو کې نوموړی بېکاري، کم معاشونه، د مالدارو په کورنو کې خدمتګاري، اقتصادي ستونزې، ټولنیز شهرت، لوږه او غربت او له دې ور ایسته د بلاربیدو ضد درمل د بدلمنۍ او لولۍ کیدو لامل ګڼي.

لومړی برخه؛ څلورم څپرکی؛ په دریمه برخه کې پوښتل شوي وو چې ښځې ولې لولی کیږي؟ خو دلته موضوع سرچپه کیږي او لیکوال لیکي چې سړي ولې لولیو ته ځي؟ د دې څپرکي په اوږدو کې لیکوال لولیو سره جنسي تنده ماتوونکو کې واده کړي، جره، ځوانان او بوډاګان ټول شامل ګڼي او لیکي کله چې د نارینوو تنده په کور دننه سړه نشي نو د شدیدې جنسي اړتیا په صورت کې لولیو ته ورځي او هغوئ یې په ورین تندي جنسي تنده ورماتوي. لولیو ته د ورتګ او اړیکو نور لاملونه هم کیدی شي، مثلاً کورني مشکلات په ځانګړې توګه د ښځې او خاوند ترمنځ، پیاوړی اقتصاد، جنسي فقر ځپلي ملګري او بدلمنی ته اسانه او ارزانه لاس رسی.

دویمه برخه؛ د کتاب د دویمې برخې په پیل کې لیکوال د بدلمنی په تاریخ، اصولو او اقسامو باندې بحث کوي او د بدلمنی په اړه د بیلا بیلو خلکو افکارو باندې غږیدلی او لیکي چې پخوا وختونو کې د خلکو باور دا و چې د لومړي ځل کوروالی/همبستري هلک/نارینه ته زیان رسوي. دغه ناسمو باورونو نه په استفادې او له زیانه د بچ کیدو په خاطر په معبدونو کې ناستو خلکو او همدا شان د ټولنې اشرافو او مبلغینو د نجونو سره لومړی ځل کور والی کاوه.

دویمه برخه؛ پنځم څپرکی؛ د بدلمنی تاریخ کتاب پنځم څپرکی لرغونې بدلمنی ته ور ګرځي، په دې برخه کې لیکوال لرغونې او د نږدې تیر وخت بدلمني څیړي. ویلی شو چې په دې برخه کې لیکوال اوسنی او پخوانی بدلمني پرتله کوي او زیاتوي چې د بدلمنی لرغوني اقسام په لګ توپیر اوسني دور ته را انتقال شوي.

د لرغوني بدلمنۍ تر عنوان لاندې يې هند ته هم سر ورښکاره کړی او د هند په لويه وچه کې يې د بدلمنۍ پخواني او اوسني حالات تشريح کړی. دلته د دې پديدې سره تړلي عجبيب او غريب رواجونه باندې بحث کوي. دا ډيره جالبه ده چې د واده زلمی به د لومړي ځل کوروالي ښځه ډاريده او د ميرمنې د پيغلتوب ماتولو لپاره به يې له نورو لارو چارو استفاده کوله مثلاً د (کراما) په (قول ساموا) کې به زلمي د لاس په شهادت گوتې د ناوې پيغلتوب ماتاوه او په (فلپين) کې به دا کار د قبيلې زړې ښځې کاوه.

<u>دويمه برخه؛ شپږم څپرکی؛</u> د کتاب دويمه برخه او شپږم څپرکي کې ليکوال مذهبي بدلمنۍ ته ور گرځي او ليکي چې شايد بدلمني به د مذهبي مبلغينو په وسيله نامتمدنو او نيمه متمدنو ټولنو ته ليږدول شوي وي. همدا شان زياتوي چې بدلمني لومړيو کې د مذهب اړوند وه او د دې قوي شواهد شته چې لومړنۍ فاحشه خانې د همدې کاهنانو (پروهتانو) تر څآر لاندې وې، خو دا به يې د معبد اړوند بللې او پکې ناستې ښځې به د لوليو پر ځآی د معبد لونې، کاهنانې او نورې بلل کيدې. ښاغلی سکاټ ليکي چې کله د بدلمنۍ او ځآن پلورنې يادونه کيږي نو د روم يادونه به ضرور کيږي ځکه چې د بدلمنۍ په اړه لومړنی قانون روميانو ساز او پلي کړ.

<u>دويمه برخه؛ اووم څپرکی؛</u> اووم څپرکي کې ليکوال پر تمدن او بدلمنۍ بحث کوي او زياتوي چې بدلمني دې د مذهبي مشرانو او مبلغينو په وسيله نامتمدنو او نيمه متمدنو ټولنو ته ليږدول شوي او پالل شوي اوسي.

په ورته وخت کې لیکوال د بدلمنۍ ارتقایي پړاونو ته په پام سره زیاتوي چې تر ټولو لومړۍ بدلمني د وحشي او نامتمدنه قومونو جنسي بې لاري ده، چې بیا پسې مقدسه یا مذهبي بدلمني راځي او اخر کې خبره مسلکي بدلمنۍ ته رسیږي، دا بڼه بیا دوه حالاته غوره کوي چې یو یې ازاده او بله یې د فاحشه خانو اړوند وي. په دې برخه کې لیکوال د مذهبي او مسلکي بدلمنۍ څه د یوې ګډوله بدلمنۍ خبره کوي او زیاتوي که د بدلمنۍ بل هر لامل وي خو پیسې به پکې خامخا دخیلي وي. که په تاریخ کې د بدلمنۍ پر دې اوږد سفر ځغلنده نظر واچوو نو په ټول تاریخ کې به ښایي د څوارلسمې او پنځلسمې پیړۍ غوندې دوره نه وي، په دې دوره کې لولۍ نه یوازې منل شوي، بلکې د بدلمنۍ په نوم د فعالیت اجازه هم ورکړل شوې ده. په دې څپرکي کې د ډیرو جالبو کیسو ترڅنګ لیکوال په اولسمه پیړۍ کې د بدلمنۍ ځپلو او کنټرول ته ورګرځي او لیکي چې د بدلمنۍ د ځپلو یا تر قانوني کړۍ محمدودولو هڅې له پخوا کیدې خو په اولسمه پیړۍ کې دا هڅې لا ګړندۍ شوې.

<u>دویمه برخه؛ اتم څپرکی؛</u> اتم څپرکي کې لیکوال د انګلستان هیواد په عمومي اوضاع او د بدلمنۍ په پیل، پړاوونو او همدا شان د چارواکو لخوا ورته د قوانینو په جوړولو، په بیلا بیلو سیمو کې د ځآن پلورنې په کاروبار کې د ښکیلو اړخونو، د ګټې او تاوان، د کم عمره نجونو په ژوند، د ځآن پلورنې د مسولینو(دلالانو) او دغې چارې ته د نجونو په راتګ غږیدلی. د نورو هیوادونو په څیر انګلستان هم د بدلمنۍ خورا اوږد تاریخ لري. په انګلستان کې د بدلمنۍ په کاروبار، د لولیو په ژوند او ورته په پیښنو کورنیو، امنیتي او روغتیایي ستونزو سربیره په بدلمنۍ کې د یاد هیواد د چارواکو په دلچسپۍ بحث

کوي. د لندن اړوند ځينو ښارونو او پکې د فاحشه خانو او لوليو شميرې را اخيستل شوي او خلاصه دا چې دا کتاب لوسته دربانديې د بدمرغيو د لوستو سفر کوي او در زده کوي چې په نړۍ کې کومې چارې دي چې په ښځينو باندې نه دي شوي.

<u>دويمه برخه؛ نهم څپرکی؛</u> د کتاب نهم څپرکی په امريکا کې د بدلمنۍ نن او پرون ته ځانګړی شوی، چې پکې د ياد هيواد په بيلا بيلو ايالاتونو کې د بدلمنۍ او ځآن پلورنې کيسې شوي. د نجونو د تيرايستو وراخوا پکې د نورو هيوادونو څخه امريکا ته د نجونو په وارداتو بحث کوي او زياتوي چې په دغه هيواد کې د لوليو او د دغې برخې د مينوالی کمی نه و او نه شته. ليکوال ليکي چې په امريکا کې بدلمني ۱۸۷۰ کال کې اوج ته رسيدلې وه او د شلمې پيړۍ تر لومړۍ لسيزې ښه په درز کې روانه وه خو د نورو هيوادونو په نسبت امريکا کې بدلمني يوه څه مډرن بڼه درلوده. دلته د بدلمنۍ د نظم او ډسپلين برخې ته ډير پام کيده، د بدلمنۍ بيلا بيلو دورو او په وروستيو کې ورته د قوانينو او کنټرول په اړه خورا جالب دی.

دويمه برخه؛ لسم څپرکی؛ د کتاب لسم څپرکی په ختيځ کې د بدلمنۍ په بيلا بيلو پړاونو، ورته په جوړو شويو قوانينو، ستونزو او په ټوله کې د لوليو د ژوند په رنګينيو، په هغه ستونزو چې دوئ ورسره د ځان پلورنې پر وخت مخ شوي غږيدلی. ليکوال ليکي چې د نورو هيوادونو په پرتله به جاپان کې لوليو سره هم دوستانه چلند کيده او د ځمکې پر مخ به داسې ځای نه وي چې لوليو ته به پکې د جاپان هومره درناوی شوی وي.

په دې څپرکي کې ليکوال په چين او جاپان کې د لوليو په پير او پلور غږيږي چې ځينې لولۍ داسې وې چې د شپږو په عمر به له مور او پلاره وپيرل شوې او بيا به دلالانو د خپلې موخې لپاره روزلې، دلته په دې هم بحث کوي چې ځينې لولۍ د وخت په تيريدا بيرته عادي ژوند ته ورگرځي. د دلالانو په سخت زړۍ غيږي او زياتوي چې دوئ به نجونې هره شپه لوڅولې او په قمچينو به يې وهلې، بيا به يې د دې نجونې جامې خپل سر ته کېښودې چې دوئ د شپې ونه تښتي. د پير او پلور پر وخت به يې دواړو خواوو داسې چنې سره وهلې لکه بازار کې چې ښځې کبان پېري او چنې وهي.

لرغوني چين کې هم بدلمني بده نه گڼل کېده او لولۍ به د لرغوني يونان هومره قدرمنې وې. جالبه پکې دا ده چې په چين کې فاحشه خانې په وچه او سيند دواړو کې شته خو په اوسني سور چين کې بيا کيسې بدلې دي اوس شانگهاۍ هغه شان بدنام ښار نه دی ځکه چې کمونيست واکمن د شهوانيت په دښمنانو مشهور دی.

<u>دويمه برخه؛ يولسم څپرکی؛</u> يولسم څپرکی چې پر بدلمنۍ د بنديزونو تاريخ ته ځانگړی شوی، ليکوال ليکي چې د بدلمنۍ د پيل ترڅنگ بيلا بيلو هيوادونو د دې ناوړه پدېدې د کنټرول په موخه د بنديزونو لړۍ پيل کړه خو تر پايه پکې هيڅ هيواد بريالی نشو چې په ټوله مانا بدلمنۍ ته د پای ټکی کيدي. په دې برخه کې د بدلمنۍ پر ضد د جوړو شويو قوانينو پر اقسامو، پلي کيدا، پايلو او په وړاندې يې د لوليو او دلالانو ری ايکشن باندې بحث شوی. د بدلمنۍ د ختمولو پايله دا وه چې دا مسلک پټ او پوښلی شو. مونږ گورو چې سره د دې ټولو اقداماتو بيا هم بدلمني روانه ده، دليل يې دا دی چې لوليو او د دوئ دلالانو به د هر قانون مطابق ځان عياروه.

کله چې دا کتاب ولولئ نو بیا پوهیږئ چې بدلمني هم لکه د نشه يي توکو يوه نړیواله پدیده ده، د قوانینو او بندیزونو سره یې هم نتایج چندان ښه نه و. لیکوال لیکي چې اخر ښکاره شوه چې په بدلمنۍ بندیز ممکن نه دی او د دې چارې ضد هر اقدام نورې ستونزې زیږوي. دلته د بدلمنۍ په وجه پر بیلا بیلو ناروغیو هم بحث شوی. د اخلاقو او اصلاح پلویانو به ویل چې د بندیزونو پر ځای دې اصلاح وشي ځکه چې دا بدي غوټه ختمیږي نه، نو باید قابو شي.

دریمه برخه؛ د کتاب دریمه برخه چې څلور څپرکې لري معاصرې بدلمنۍ ته ځانګړې شوې هغه برخه ده چې د تیرو دوه برخو سره په لګ توپیر د اوسني دور پر بدلمنۍ، وسایلو او اسانه لاس رسي او کنټرول بحث کوي او د معاصرې بدلمنۍ پر بېلا بیلو اړخونو یې رڼا اچولې چې پکې د عصري ژوند اړوند هغه وسایل او لارې چارې بحث شوي چې بدلمنۍ ته یې نوې بڼه او رنګ بخښلی دی.

دریمه برخه؛ دولسم څپرکی؛ په دولسم څپرکي کې لیکوال د لولیو/ ځآن پلورونکو مسلکیتوب ته ورګرځي او د بیلا بیلو هیوادونو د لولیو د ځآن پلورنې په جریان کې د بیلا بیلو طریقو او لارو چارو یادونه کوي چې دوئ ځانته خلک څنګه را بولي؟ د دوئ د ګرځیدا انداز، د پیژندنې نښې، ښګینې او بدګنې یې ورته تشریح کړي. د معاصر دور د بدلمنۍ بڼې راپیژني. د ترکیې په شمول په ځینو نورو هیوادونو کې د بدلمنۍ اوسنی وضعیت څیړي او لیکي چې اوس هم په ځینو هیوادونو کې ثبت شوې لولۍ فعالیت کوي او په ځینو نور کې بیا د ثبت هیڅ سیټم نشته.

په دې برخه کې د لولیو په اوسني وضعیت خبرې کوي او زیاتوي چې د پخوا په نسبت دوئ ډیر چمونه زده کړي چې وخت ناوخت ترې ګټه اخلي او خپل پیرودونکي پرې تیرباسي، د نړۍ د بیلا بیلو هوټلو یې هم پرده پورته کړې چې خپلو مېلمنو ته لولۍ راغواړي او یا ورته مېلمانه ځان سره لولۍ بوځي.

دریمه برخه؛ دیارلسم څپرکی؛ دریالسم څپرکي کې لیکوال د ښځو او په ټوله کې د لولیو پر سوداګرۍ تم کیږي او لیکي هر چېرته چې فاحشه خانه وي لولۍ به غواړي او د دې غوښتنې د پوره کولو لپاره د ښځو سوداګر تل چمتو وي. دا سوداګر هغه نجونې په نښه کوي چې فلمونو، سینماګانو، ډرامو او سټیجونو کې د کار لیواله وي یا زیاتره ښې دندې غواړي او دوئ ژر و اسانه تېرباسي. دا کاروبار ډېر پراخه دی، خورا ډیر خلک پکې د دلالانو په توګه بوخت دي. دلته لیکوال د ښځو د سوداګرۍ پر لاملونو هم غږیدلی وایي؛ په هر هیواد کې چې سړي تر ښځو ډیر شي، د لولیو غوښتنه پکې زیاتېږي. همداسې د سړیو له کډوالۍ هم دا غوښتنه زیاتېږي، پوځي بریدونه او د لښکرو تګ هم په دې برخه کې ځانګړی رول لوبي ځکه چې پوځ ارزانه لولۍ غواړي، شتمن خلک پرلپسې د نویو لولیو غوښتنه کوي.

دریمه برخه؛ څوارلسم څپرکی؛ په څوارلسم څپرکی د بدلمنۍ په وړاندې د قانون، جریمې او سزا په اړه غږیږي، چې د بېلا بیل هیوادونو قوانینو کې ورته د حالاتو مطابق سزا ټاکل شوې، خو د لولۍ په مقابل کې چې کوم سړی ګناه کوي هغوئ ته په سزا هېڅ ټینګار نه کوي. خلاصه دا چې د بدلمنۍ د کنټرول په موخه چې کوم قوانین جوړ شوي او جوړیږي په دغه قوانینو کې تراوسه لولیو ته هېڅ انصاف نه دی ورکول شوی.

د لولیو تر ټولو سخت قانون۱۹۵۹ کال کې ساز شو، د دې قانون نوم سټریټ افینس ایکټ و او لولۍ یې د سختو سزاوو وړ ګڼلې وې.

دریمه برخه؛ پنځلسم څپرکی؛ پنځلسم څپرکی د دې کتاب وروستی څپرکی دی چې د بدلمنۍ په راتلونکي بحث کوي. ځینې خلک په دې نظر دی چې نږدې راتلونکي کې به مسلکي بدلمني ختمه شي خو د اوسنیو حالاتو خو داسې نه ښکاري، ځکه چې په اوسني وخت کې انټرنیټي شبکو د بدلمنۍ نوې لارې چارې ایجاد کړې. لیکوال لیکي چې نن سبا په امریکا او انګلستان کې زنا فېشن ګرځیدلې ځکه چې اصیلي نجونې هېڅکله د جنسي بې لارې سړیو تنده نشي ماتولای؛ نو ترڅو چې تمدن وي د مسلکي بدلمنۍ ستونزه به ټولنیزه موضوع وي. خلاصه دا چې بدلمني د دولتي قوانینو له مخې نه ختمیږي. د دې کتاب لوسته د بدلمنۍ تاریخ اړوند یو جالب سبق دا راکوي چې سخت قوانین، ټولنیز پرېکون او اخلاقي اصول یوازې دومره کوي چې بدلمني پټوي، البته په اقتصادي حالت کې انقلابي بدلون ښایي بدلمنۍ کې کمی ممکن کړي.

د دې کتاب د لوستو ګټه به څه وي؟

د دې کتاب لوسته درته د بدلمنۍ په اړه عمومي مالومات درکوي.

د خپلې ټولنې اوسنۍ اوضاع او پکې د میشتو خلکو په پېژندنه کې درسره مرسته کوي.

د بدلمنۍ او ځآن پلورنې پر لاملونو مو خبروي او په ټولنه کې عامه پوهاي ته لار پرانیزي.

د بدلمنۍ او ځآن پلورنې څخه ځان ساتنې او په ټوله کې مو د خپلو کشرانو کنټرول کولو ته متوجې کوي.

د بدلمنۍ او ځان پلورنې څخه پر را ولاړو شویو ستونزو او امراضو مو خبروي. همدا شان مو د دغه مسلک د مخکښانو له لورې له دوکه کولو څخه ژغوري.

که مو دا کتاب تراوسه نه وي لوستی، اول یې خپله ولولئ او بیا یې پخپلو کشرانو ولولئ ترڅو په راتلونکې کې د دغه حالاتو ځان وساتي.

تر بیا ښې چارې

پای